## وردګ پوهنتون
## د کرنې پوهنځي
## د تأسیس کال: ۱۳۹۳



## لرلید

د کرنې پوهنځی په علمي ډګر کې د هیواد په کچه د کرنې د یوې غښتلې او اکاډمیکې اداري د رامنځته کولو هڅه کوي، ترڅو د کرنې په برخه کې د هیواد د پرمختګ، هوساینې او ښې راتلونکې لپاره با استعداده، مسلکي او په اسلامي روحیه سنبال کادرونه وروزي.

**پته: وردګو ولایت، توپ دښته، د پولیسو اکاډمي ته څېرمه وردګ پوهنتون**
**د کرنې پوهنځي**

## د کرنې پوهنځي تاریخچه

وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځی په ۱۳۹۳ هـ ش کال کې چې د ۲۰۱۴ میلادی کال سره سمون خوري د یاد پوهنتون د تأسیس سره سم د دوو څانګو (هارتیکلچر او اګرانومي) په چوکاټ کې په لمړي ځل د دریو تنو استادانو په درلودلو سره په فعالیت پیل وکړ.

د کرنې پوهنځي تول تشکیل (۲۰) کسانو ته رسیږي چې له دې جملې (۱۲) تنه کادري غړي لري چې د ماستري او دوکتورا تر کچې یې لوړې زده کړې کړې دي، ددې تر څنګ څلور تنه اداري کارمندان او څلور تنه خدماتي کارکوونکي پخپل تشکیل کې لري. اوسمهال ددې پوهنځي په پورته ذکر شویو (۲) څانګو کې (۲۱۸) تنه محصلین په زده کړو بوخت دي. دې پوهنځي د ۹ کلن بهیر په دوران کې له دوو څانګو څخه (۵۸۹) تنه محصلین د ټولنې د خدمت په موخه فارغ کړي دي.

د کرنې پوهنځي د کیفیت د ښه والي لپاره تازه متې رانغښتې دي. یادې پوهنځي په خپل اداري چوکاټ کې ۸ داسې کمېټې جوړې کړې دي چې د پوهنځي د کیفیت لوړاوي لپاره په دوامداره توګه کارونه سرته رسوي، چې عبارت دي له: ۱- د کیفیت لوړاوي فرعي کمېټه، ۲- د ستراتیژیک پلان کمېټه، ۳- نصاب کمیټه، ۴- څېړنې کمېټه، ۵- الکترونیکي زده کړو کمېټه ۶- آزموینو کمیټه ، ۷- مالي کمیټه، فرهنګي او نشراتو کمیټه، ۸ـ د نظم او دیسپلین کمېټه. دا کمېټې خپل کارونه په خپل وخت ترسره کوي چې ښه بېلګه یې د

## رسالت

د کرنې پوهنځی د مسلکي، اخلاقي او اکاډمیکو معیارونو په رڼا کې د استادانو، محصلینو او کارمندانو لپاره د علمي پوهې د لاسته راوړلو، شریکولو او د علمي چارو لپاره زمینه برابروي.

## موخې

- د عصري او معیاري میتودونو په وسیله د تدریس چارې پر مخ وړل.
- د عصري کرنې د انکشاف، د نباتاتو د تکثیر او اصلاح، د نباتي امراضو او آفاتو په مقابل کې مبارزه، د خاورې ساتنه او اصلاح، د اوبو تنظیم او مدیریت، د حیواني او نباتي محصولاتو اصلاح او مدیریت برخو کې د علمي او مسلکي کادرونو روزل.
- د استادانو او محصلینو پواسطه د څانګو اړوند علمي څېړنو سرته رسول.
- د کرنې او مالداري سکتور اړوند علمي تألیفاتو، ژباړو، عملي سمینارونو، ورکشاپونو او اړوند مسلکي فعالیتونو سرته رسول.


کمپیوټرلب


کتابتون


درسي خونه


جامع جومات

## Wardak University
## Faculty of Agriculture



Address: Wardak Province, Dasht Top, Police Academy, Wardak University
Faculty of Agriculture

### Mission

In the view of professional, ethical and academic standards, The Faculty of Agriculture, offer a context for the acquisition, sharing and practical work of scientific knowledge for teachers, students and staffs.





### Vision

Faculty of Agriculture is struggling to establish a competitive academic agriculture institution on national level in the scientific field, to train talented, professional and nationally-minded staffs for the development, prosperity and good future of the country.

### Objectives

- Running of teaching affairs based on modern and standard methodology
- Development of modern agriculture, plant propagation and improvement, prevention of plant diseases and pests
- Conservation and improvement of soil and management of water
- Improvement of animal and plant produces and training of academic and professional cadres
- Conducting of department based academic researches by lectures and students